**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د پوښتنې ځواب**

**سعودي عرب ولې د نفتو په تولید کې د پام وړ کموالی راوست؟**

(ژباړه)

**پوښتنه:**

ولې د امریکا مزدور سعودي، په اوپیک پلس (د نفت صادروونکو هېوادونو سازمان) کې د نفتو په تولید کې په زیاته اندازه کموالي راوستو سره له روسیې سره همکاري کوي؛ چې په دې سره بیې لوړېږي او دا کار د امریکا د غوښتنو خلاف دی؟ امریکا د سعودي عرب دې پرېکړه په غوسه کړه او اعلان یې وکړ چې له دغه هېواد سره پر خپلو اړیکو بیاکتنه کوي: «بایډن ژمنه وکړه چې له روسیې سره د سعودي عرب درېدل او د نفتو د تولید کمول به دغه هېواد له ځینو «پایلو» سره مخ کړي او دا پایلې به د واشنګټن او ریاض ترمنځ د اړیکو د بیاکتنې سبب شي» (فرانس ۲۴، ۲۰۲۲/۱۶/۱۰). دې ته په کتو چې سعودي او د دغه هېواد اوسنی حاکم، بن سلمان د امریکا مزدوران دي؛ تاسو یادو اقداماتو ته په څه نظر ګورئ؟ له دغو اقداماتو څخه د کومو پایلو تمه کېږي؟

**ځواب:**

په پیل کې باید دا تایید کړو، چې سعودي عرب او متحده عربي اماراتو د اوپیک پلس سازمان په اډانه کې له روسیې سره د نفتو د تولید کمولو هوکړه کړې ده چې له مخې به یې نړیوال بازار ته په ورځ کې دوه میلیونه بېرله نفت وړاندې کوي؛ دا د بایډن او اروپا لپاره یوه حېرانوونکې پرېکړه وه. ځکه دغه هېوادونه خپله ټوله هڅه کوي چې د روسیې له نفتو ځان بې نیازه کړي او د دې کار لپاره په نړیوال بازار کې د روسیې په بدیل پسې ګرځي چې د انرژي کموالی د نرخونو د لوړېدو لامل نه شي. په داسې حال کې چې نرخونه لا له وړاندې، په ځانګړي ډول په اروپا کې لوړ شوي دي.

د دې لپاره چې د نفتو د تولید له کموالي د سعودي عرب پر موخه پوه شو؛ د نړیوالې فضا پر هغه واقعیت پوهېدل اړین دي چې د دې ګام پورته کول ورسره تړاو لري.

**لومړی: په اروپا کې د انرژۍ کړکېچ**

۱- «اروپایي اتحادیې څو میاشتې وړاندې پر روسیې د اوکراین د جګړې له امله د بندیزونو شپږم پکېج تصویب کړ، چې له راتلونکې ډسمبر وروسته له مسکو څخه د نفتو پر وارداتو بندیز هم پکې شامل و. اروپایي اتحادیې په تېر اکسټ کې له روسیې څخه د

خامو نفتو واردات په ورځ کې ۱,۷ میلیونه بېرلو ته راکم کړل؛ په داسې حال کې چې په تېره جنوري کې دا شمېره د ورځې ۲,۶ میلیونه بېرله وه» (انډیپینډنټ عربي، ۲۰۲۲/۱۲/۹). د اروپایي اتحادیې په بندیزونو کې هغه نفت شامل دي چې د سمندرګۍ له لارې لېږدول کېږي؛ د ځینو نلونو له لارې لېږدول کېدونکي نفت نه پکې شاملېږي. امریکا د دې لپاره چې اروپایي اتحادیې ته خپل ملاتړ په ډاګه کړي، (د بندیزونو له شپږم پکېج وړاندې ) یې دغې اتحادیې ته د روسیې د نفتو نیمایي ورکول، خو وروسته یې دا لړۍ ودروله.

۲- له بله پلوه، په ځانګړي ډول اروپا د انرژۍ له ژور بحران څخه کړېږي، چې د ګاز او برېښنا بیې پکې دوه برابره شوې دي. د دې لامل دا دی چې اروپا د اوکراین تر جګړې وړاندې، د روسیې د انرژۍ پر سرچینو ډېره تکیه کوله. که څه هم اوس د ګازو بیه د اروپا او امریکا تر منځ څلور برابره توپیر کوي، خو د نفتو بیې کابو په نړیواله کچه پر خپل حال دي. د ګازو بیې د لېږدوونکو نلکو د شتون یا مایع ګاز د تصفیه کولو دستګاوو له امله توپیر کوي. د دې معنی دا ده چې پر روسیې د اروپا د بندیزونو شپږم پکېج د دې سبب شوی چې په اروپا کې به د نفتو د عرضې کچه په ورځ کې ۱,۴ میلیونه بېرلو ته راټیټه شي؛ دا یوه لویه کچه ده او تمه ده چې د نفتو بیه به لوړه کړي. که د نفتو د تولید د کمولو په اړه د اوپیک پلس سازمان هغه پرېکړه له دې سره یو ځای کړو چې دوی به په ورځ کې ۲ میلیونه بېرله نفت تولیدوي؛ د نفتو بیې به اسمان ته وخېژي.

### دویم: روسیه او پر روسیې د یادې پرېکړې اغېز

۱- امریکا او اروپا هڅه کوي چې د روسیې اقتصاد محاصره او د دوی عواید کم کړي؛ د دې لپاره غواړي چې نړیوال بازار ته په لویه کچه نفت عرضه شي او له دې لارې د روسیې عاید کم شي. خو د اوپیک پلس سازمان وروستۍ پرېکړې د نفتو کچه کمه، نرخونه لوړ او روسیې ته یې له مالي اړخه ګټه ورسوله. امریکا او اروپا دا څه نه غوښتل. دا سمه ده چې امریکا د اروپا او روسیې ترمنځ په ترینګلو اړیکو کې اوږد مهاله موخې لري؛ یعنې غواړي چې اروپا ته د روسیې د انرژۍ د وارداتو لارې پرې کړي؛ خو د امریکا یوه لویه موخه دا هم ده چې مسکو له مالي اړخه کمزوری کړي. له همدې امله د سعودي له لوري د امریکا د دغې موخې خلاف کار، حیرانوونکی دی.

۲- د امریکایي او اروپایي هېوادونو د موخو په اړه باید ووایو چې دا هېوادونو ډېره هڅه کوي چې د روسیې پر نفت او ګازو د مشخصې بیې لګولو په اړه بحثونه کوي. ځکه یاد هېوادونه وېني چې د بندیزونو له امله اروپایي مارکېټونو ته د روسیې د نفتو کچه کمه شوې ده، خو له بله اړخه بیا روسیه د هند، چین او نورو اسیایي هیوادونو د بازارونو په موندلو کې بریالۍ شوې ده. بندیزونو له روسیې سره د نویو بازارونو په موندلو کې مرسته کړې؛ یعنې د نفتو له درکه د روسیې عاید د اوکراین تر جګړې وړاندې حالت په پرتله، توپیر نه دی کړی؛ ځکه د نفتو بیه په نړیواله کچه لوړه شوې. له همدې امله د روسیې د عاید د محاصره کولو لپاره د دوی پر نفتو د مشخصې بیې لګول، تر اوسه د یوه وړاندیز په توګه پاتې دی. په نړیوالو بازارونو کې کافي اندازه نفت شته، نو د یادو هېوادونو د پلان له مخې د نفتو بیې مناسبې پاتې کېږي. د روسیې د نفتو پر نرخونو ستر بندیزونه لګول تراوسه په پام کې دي، اروپا او امریکا د سترو بندیزونو لګولو جرات نه دی کړی، ځکه دا کار په نړیواله کچه پر بیو اغېز کوي او روسیه ممکن هغو هېوادونو ته د خپلو نفتو صادرات بند کړي چې د دوی پر نفتو د مشخصې بیې تاکل غواړي.

**درېيم: د امريکا د کانګريس ټاکنې**

۱- په پام کې ده چې د امريکا د کانګريس د منځنۍ دورې ټاکنې د ۲۰۲۲م کال د نومبر پر ۸ مه ترسره شي. د پخواني ولسمشر ټرمپ جمهوري غوښتونکی ګوند تمه لري چې يادې ټاکنې به وګټي او د دواړو خونو؛ استازو جرګې او سنا مجلس واک به خپل کړي. دا ټاکنې ځکه مهمې دي چې پايلې به يې د ۲۰۲۴ پر ولسمشريزو ټاکنو اغېز وکړي. جمهوري غوښتونکی ګوند هڅه کوي چې بېرته واک ته راشي. په اوسنيو شرايطو کې امريکا له تفرقې او ټوټې کېدو کړېږي. د اوپيک سازمان پرېکړې ژور اړخونه لرل چې د امريکا په ولسمشريزو ټاکنو پورې هم اړه لري؛ امريکا له يوه پلوه ډيموکراټ ګوند او د دوی د ملاتړو ټيکنالوژيکي شرکتونو او له بل پلوه جمهوري غوښتونکي ګوند او د دوی ملاتړو د نفتو لويو شرکتونو د تفرقې په ډګر بدله شوې ده. ځکه خو د نفتو د توليد کمولو په اړه د اوپيک پلس سازمان له پرېکړې سره د سعودي عرب ملګرتيا حساسيت پاروونکې ده.

۲- د دغه حساسيت اصلي دليل هغه برخليک ټاکونکی پړاو دی چې امريکا پکې ده؛ يعنې د کانګريس له ټاکنو يوه مياشت مخکې: « د اکتوبر پر ۵ مه، د نفتو صادروونکو هيوادونو ايتلاف په ورځني ډول دوو ميليونو بېرلو ته د نفتو د توليد کموالی اعلان کړ؛ د نفتو په توليد کې دا کموالی په نومبر کې پيلېږي، خو دغه اعلان اوس د نفتو په بيو کې ٪۱۰ زياتوالی راوست، له دې اعلان يوه اونۍ وړاندې بيې يو څه ټيټې وې» (انادولو اژانس، ۲۰۲۲/۱۲/۱۰). د اوپيک پلس سازمان له پرېکړې د سعودي عرب ملاتړ د نفتو بيې لوړې کړې. د نفتو د بيو لوړوالی د امريکايي رايه ورکوونکو لپاره مهم دی او د رايه ورکوونکو نظر بدلوي؛ د بيو لوړوالی دغه رايه ورکوونکي د بايډن له ډيموکراټ ګوند څخه لرې کوي او هڅوي يې چې جمهوري غوښتونکي ګوند ته رايه ورکړي. د دې خبرې يو دليل دا دی چې امريکا له سعودي عرب او خليج هېوادونو سره اړيکه ونيوله چې د اوپيک پلس سازمان پرېکړه يوه مياشت وځنډوي چې د کانګرېس د منځنۍ دورې ټاکنې تېرې شي. [والسټريټ ژورنال وويل چې سعودي عرب د نفتو د توليد د کموالي په تړاو د اوپيک پل سازمان د پرېکړې ځنډولو غوښتنه رد کړې. ورځپاڼې د هغو سرچينو په حواله چې په دغو خبرو اترو کې وې، زياته کړې چې امريکايي چارواکو د اوپيک سازمان تر پرېکړې وړاندې د شاهي کورنۍ او خليج هېوادونو له چارواکو وغوښتل چې دا پرېکړه يوه مياشت وځنډوي؛ خو هغوی دا غوښتنه رد کړه. د ورځپاڼې په خبره؛ له موضوع څخه باخبرو سرچينو وويل چې امريکايي چارواکو د دغې پرېکړې د ځنډولو لپاره پر سعودي د سختو فشارونو لار غوره کړه. د سپينې ماڼۍ چارواکو څو څو ځله له شهزاده محمد بن سلمان سره اړيکې ونيوې او د امريکا د خزانې وزير، جانيټ يلين د سعودي له مالي وزير سره اړيکه ونيوله» (الحرة، ۲۰۲۲/۱۰/۱۱). په دې توګه روښانه کېږي چې له ټاکنو مخکې، د نفتو په توليد کې د کموالي پرېکړه د ډيموکراټ ګوند او بايډن ادارې لپاره مهمه ده او د بايډن ادارې غوښتل چې دا پرېکړه وځنډوي؛ خو بريالۍ نه شوه!

۳- پورتنيو مواردو ته په کتو، د اوپيک پلس سازمان له پرېکړې د سعودي ملاتړ چې د نفتو په توليد کې د پام وړ کموالی راولي، په دې معنی نه دی چې د غرب له دښمنې روسيې سره له مالي اړخه مرسته وکړي. دغه راز، سعودي نه غواړي چې په اروپا کې د انرژۍ بحران لا ژور کړي؛ ځکه سعودي د اروپا پر وړاندې د درېدو توان نه لري. سعودي هغه څه کوي چې په واشنګټن کې يې بادارن ترې وغواړي. سعودي دا کار په واشنګټن کې د خپلو بادارانو په اشاره وکړ چې د پخواني ولسمشر، ټرمپ جمهوري غوښتونکي ګوند چانس زيات شي. دا ښيي چې په امريکا کې سياسي وضعيت څومره د دوه ټوټې کېدو له ګواښ سره مخ دی چې يو ګوند د بل د ګټو زيانمنولو لپاره له بهرنيو لوريو سره لاس يو کوي؛ ان که سيال ګوند د واک پر ګدۍ ناست هم وي!

۴- د بایډن اداره د سعودي عرب پر پرېکړه غوسه شوه، [بایډن سه شبنه ماښام له سي ان ان ټلویزیون سره په مرکه کې وویل، «هغه څه چې هغوی (سعودي) یې له روسیې سره کوي، ځینې پایلې به ولري». هغه زیاته کړه، «زه نه غواړم د هغه څه په تړاو څه ووایم چې زما په ذهن کې دي. خو دا کار به یې خپلې پایلې ولري». بایډن اشاره وکړه، «اوس د دې وخت رارسېدلی چې واشنګټن یې له سعودي سره پر خپلو اړیکو بیاکتنه وکړي» (انادولو اژانس، ۲۰۲۲/۱۲/۱۰). دغه راز [د سپینې ماڼۍ ویاندې، کرین جین پیري وویل چې ولسمشر بایډن د خپلې ادارې له پیل راهیسې په ډاګه ویل چې له سعودي سره باید بېلې اړیکې ولرو. نوموړې زیاته کړه چې واشنګټن له سعودي سره خپلې اړیکې بیا ارزوي او له کانګریس سره په سلا به هغه څه وڅاري چې په راتلونکو اونیو کې پېښېږي. هغې وویل چې د اوپیک پلس سازمان پرېکړې وښوده چې سعودي د انرژۍ اړوند سیاستونو په تړاو له روسیې سره ملګرتیا کوي» (الجزیره نېټ، ۲۰۲۲/۱۲/۱۰)].

**څلورم: هغه څه چې په راتلونکي کې یې تمه کېدای شي، دا دي:**

۱- په دې کې شک نشته چې د نفتو د تولید کمولو په اړه د اوپیک پلس سازمان پرېکړه د نفتو پر عرضه کولو د درانده فشار اچولو په موخه شوې. ان له دې پرېکړې وړاندې، د بایډن ادارې پرېکړه کړې وه چې د سون توکو د بیې له لوړېدو سره د مقابلې لپاره به د شپږو میاشتو لپاره د امریکا له بیړنۍ زېرمې ملیون بېرله نفت راوباسي. له دې سره به د بایډن ادارې ته د کانګریس په ټاکنو کې زیان نه رسېږي او روسیه به وننګولی شي، [سپینه ماڼۍ وایې، د امریکا ولسمشر بایډن له امریکایي زېرمو څخه د بې سابقه نفتو مصرفولو اعلان وکړ او دا اقدامات په دې موخه وشول چې د نفتو هغو کمپنیو ته د تولید نه زیاتولو له امله سزا ورکړي چې د فدرالي دولت پر ځمکو واقع دي او سزا یې دا ده چې د هغوی پاتې کرایه به بېرته نه جبرانېږي. سپینې ماڼۍ وویل: «له متحدینو او ملګرو سره تر مشورې وروسته، ولسمشر به د امریکا په تاریخ کې د نفتو له زېرمو څخه په پراخه کچه نفت راوباسي؛ له دغو زېرمو به د راتلونکو شپږو میاشتو لپاره هره ورځ په اوسط ډول یو میلیون بېرله اضافي نفت را ایستل کېږي او مصرفېږي» (سي ان ان عربي، ۲۰۲۲/۳۱/۳)].

۲- له دې ټولو سره سره، دا څرګنده ده چې د امریکا ولسمشر هڅه کوي د کانګریس له ټاکنو مخکې، د امریکا کورنی بازار غلی کړي، په داسې حال کې چې سعودي د نفتو د تولید د زیاتوالي په تړاو د بایډن غوښتنه رد کړه او د کانګریس له ټاکنو یوه میاشت مخکې، سعودي د اوپیک پلس سازمان د پرېکړې ملاتړ وکړ. سعودي ډېر نور کارونه هم وکړل، له روسیې څخه یې د نفتو واردولو کچه دوه برابره کړه. د «Refinitiv Eikon » معلومات ښيي چې [سعودي د اپریل او جون میاشتو تر منځ له روسیې څخه د روسیې او استونیا بندرونو له لارې ۶۴۷ زره ټنه نفت چې ۴۸ زره بېرله کېږي، وارد کړل. دا کچه د تېر ۲۰۲۱ کال په پرتله دوه برابره زیاته ده. (الحرة، ۲۰۲۲/۱۵/۷)]. سعودي د امریکا د نفتو کمپنیو او جمهوري غوښتونکي ګوند سره په همږغۍ یوه لویه دسیسه مخته وړي چې د اوسني ولسمشر د پالیسۍ پر ضد ده. که له سعودي سره د جرېډ کوشنر پشان د پخواني ولسمشر، ټرمپ، د مامورینو اړیکو ته ځېر شو، ښکاري چې سعودي یې خپل د نفتو سیاستونه له جمهوري غوښتونکي ګوند، په ځانګړي ډول ټرمپ او په دغه ګوند پورې تړلو د نفتو امریکایي کمپنیو سره همغږي کوي؛ په ځانګړي ډول دې ته په کتو چې دغه کمپنۍ د سعودي په نفتو کې لوی او پرانیستی لاس لري.

۳- په دې کې شک نشته چې په راتلونکو ورځو کې به د امریکا پر وړاندې د سعودي دغه سیاستونه دوی د بایډن ادارې له فشارونو سره مخ کړي؛ لکه څنګه چې د بایډن ادارې اعلان وکړ چې د اوپیک پلس سازمان له پرېکړې وروسته له سعودي سره د اړیکو پر بیاکتنه غور کوي. ان د بایډن ادارې ځینې چارواکي د سعودي او روسیې ترمنځ نیږدې اړیکو ته اشاره کوي: [ولسمشر بایډن ټینګار وکړ چې سعودي عرب به د نفتو د تولید د کمولو په اړه د اوپیک پلس سازمان د پرېکړې په سبب له ځینو پایلو سره مخ شي. نومووړي ټینګار وکړ چې اوس د دې وخت را رسېدلی چې له سعودي عرب سره پر اړیکو بیاکتنه وشي. له بل لوري، د امریکا د دفاع وزارت د عامه اړیکو مخکینی مرستیال، جان کربي تایید کړه چې ولسمشر د امریکا او سعودي عرب ترمنځ د اړیکو د بیا ارزولو امر کړی. (الحره، ۲۰۲۲/۱۲/۱۰).] دغه راز، وتلي ډیموکراټ سناتور، باب مینډیز د سنا مجلس د بهرنیو اړیکو کمېټې پر مشر لفظي ګذار وکړ، «ریاض د روسیې، چې په اوکراین کې بې رحمه جګړه مخته وړي، اغېزناک ملاتړ کوي». د ایلونایز سناتور، ریچارډ ډیک سه شنبه سهار وویل، «سعودي عرب په ښکاره غواړي چې روسیه په اوکراین کې جګړه وګټي، هغه سي ان ان ته وویل، «راځئ په دې اړه په ډاګه ووایو، پوتین او سعودي د امریکا پر خلاف دي»، نومووړي ټینګار وکړ چې «سعودي عرب زموږ ریښتنی ملګری نه دی...» (الحرة، ۲۰۲۲/۱۲/۱۰). په دې کې شک نشته چې سعودي د روسیې د ګټو خوندي کولو لپاره هیڅ اقدام نه کوي، په ۲۰۲۰م کال کې د ټرمپ ادارې پر مهال سعودي د روسیې ګټې له زیان سره مخ کړې او روسیه یې اړ ایستله چې د نفتو تولید کم کړي (په دې اړه «د نفتو بحران او اغېزې یې» سوال او ځواب وګورئ چې د ۲۰۲۰م کال د اپریل په ۲۹مه خپور شوی). نو که څوک فکر کوي چې سعودي د امریکا پر ضد د روسیې ملاتړ کوي، تصور یې هم مه کوئ. په دې اړه باید پوره باور ولرو چې د سعودي حکام د امریکا وفاداره مزدوران دي.

**پنځم:** د سعودي د نفتو د سیاستونو واقعیت دا دی؛ چې سعودي اوس قصداً د بایډن ادارې د غوښتنو خلاف کار کوي، خو د جمهوري غوښتونکي ګوند او د دغه ګوند د ملاتړو د نفتو امریکایي کمپنیو په خوښه کار کوي. دغه کمپنۍ له یوې خوا غواړي د نفتو بیې لوړې او ډېره ګټه ترلاسه کړي او له بلې خوا غواړي چې د ولسمشر بایډن پلویان د کانګریس په منځنۍ دوره ټاکنو کې ماتې وخوري. دوی دا هیله لري چې جمهوري غوښتونکی ګوند به د دواړو مجلسونو اکثریت خپل کړي او په دې توګه به د ۲۰۲۴ کال په ولسمشریزو ټاکنو کې جمهوري غوښتونکي نوماند ته د بري لار هواره شي.

که سعودي او ځینو خلیجي هېوادونو غوښتلای چې د نفتو بازارونه، بازارموندنه او بیې د ځان او خپلو خلکو په ګټه وکاروي؛ د دې کار پوره توان یې درلود. خو دا خبره ان د دغو مزدورانو په فکر کې هم نه راګرځي، ځکه چې د پردیو مزدوري یې له مسلمانانو سره د دښمنۍ پشان په وینه کې ګډه ده. څو چې دا مزدوران وي، د مسلمانانو نفت به همداسې د دښمن په لاس کې وژونکې وسله وي؛ یوازې خلافت – چې ژر به د الله سبحانه و تعالی په خوښه بیا تاسیس شي- کولی شي چې پخپله مسلمانان د خپلو نفتو واکمن کړي.

**(وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ * بِنَصْرِ اللَّهِ يَنْصُرُ مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ)**

**ژباړه:** او په هغه ورځ به مومنان د الله په نصرت خوشاله شي. (الله سبحانه و تعالی) هغه چا ته چې وغواړي نصرت ورکوي او همغه برلاسی او مهربان ذات دی. [روم: ۴-۵]

۲۱مه ربیع الاول د ۱۴۴۴ هـ.ق

۱۷مه اکتوبر د ، کال ۲۰۲۲م